ځواب : اول ترټولو خوږه اسلام کي موږدادرس اخیستي دي چي باید دنیك کارله نتایجونه هیڅکله ناامیده اومایوسه نه اوسو اوبل داچي تکرارد ګناه باعث ددي نه کیږي چي سړي دي په ثواب کي فکرنه کوي داچي له موږنه معاهدي ماتي شوي دي، داچي په توافقنامو موعمل ندي کړي، داټول ګناه وي دي. الله دي ددي عفوه ټولو ته وکړي، خودادي موجب نه ګرځي چي موږبه بیادوفاپه فکرکي نه کیږو اوپرتعهداتوباندي ددریدوپه خیال اوتصورکي به نه کیږو. زه پدي یقین لرم چي بالاخره به موږټول داضرورتونه ، وضع اوشرایط دیته واداروي چي داسلام، وطن اوجهاد په ګټي اومصلحت په خاطرپخپلوتعهداتو التزام وکړو اوپه فیصلو باندي ټینګ ودریږو امکان لري چي یوتعداد فیصلي به داسي خصوصیت له ځانه سره ولري چي په پخپله فیصله کي به عملي جانب زیات په نظرکي نه وي نیول شوي ، اوکیداي شي دفیصلو دعملي کیدو په تطبیق کي ځه مشکلات پیدا شوي وي خوشرایط فرق کوي او تجربي اوس پخي شوي دملت دردونه اورنځونه هرڅوك په سترګو ویني . زه فکرکوم چي هیڅوك به ځانته ددي اجازه ورنکړي چي دادردونه او تکلیفونه بیا ددوي له لاري پدي ملت وطن او خلکوباندي راشي ، زه خپله امیدواریم ان شاء الله داځل به دافیصلي عملي کیږي او دتطبیق جامه به اغوندي .

سوال : استادمحترم ! درطول چهارده ماه گذشته بالخصوص درایامي که ماشاهد جنگ ودرگیري مي بودیم درکابل این طورتحلیل هاصورت میگرفت که تجربه مجاهدین برساختن حکومت یك تجربه ناکام وناموفق است مجاهدین اگرتوانستند درصحنه نظامي دشمن بزرگ را ازپادرآورند وباعث انقراض یك امپراوري نظامي شوند ولي درساحه سیاست اینهاکارسیاست وحکومت داري رابه پیش برده نمي توانند ، بهتراست که آنها درفکربدیل باشند ومجاهدین هم که کاررابه پیش برده نتوانستند میدان رارهاکنندبه کسان دیگرکه آنهاحکومت رادرافغانستان تشکیل نمایند، شمادراین مورد چه نظردارید واین اعتراض تاچه حدي بجامیدانید ؟

جواب : اگرمجاهدین یك چیزي نمي بودند مردم همین قدربه خودشان ودرمورد شان گپ نمي زدند وهمین قدرازآنهاتشویش نمي داشتند ، مایقین داریم که امروزهمه طاقت هاي کفري درتلاش این هستندکه جلوقیام صحیح ودرست واستقراریك نظام اسلامي رادرافغانستان بگیرند وآنهافهمیده اندکه مجاهدین توانائي این رادارند، مجاهدین استعداد این رادارند اگرتوانائي واستعداداین رانمیداشتندبازضرورت به این نبودکه درمورد ازپادراوردن شان تلاش میکردند، ماحالا هم میگوییم که مجاهدین استعداد حکومت داشتن وحکمروائي را دارند، فعلاً هم کرده اند وباوجود همین مشکلات وجنجال هائیکه برایشان پیداشده است بازهم امیدواري زیادي مادارېم که راه خودرا دربین همه این تکلیف ها و موانع پیدامیکنند وشق میکنندوخودرابه ساحه امن درامان واستقرار کشیدني هستند ان شاء الله مابه همین یقین هستیم واگرهرجهت دیگري به همین طور مشکلات روبرومیشدممکن حالادست باچه مي بودوبه زمین مي افتیدوتوان به پااستاده شدن رانه مي داشت بازهم درین قسمت همین یك سخن راتکرارمیکنم اینکه معني این رانداردکه همه کارهایي را که ماکرده ایم خوب بوده . کارهاي بسیارخراب هم ازماسرزده . اشتباهات ازماسرزده ماباعث ایجاد مشکلات وجنجال هابراي خودوملت خود شده ایم دراین هیچ شکي نیست لاکن درپهلوي همه اینهاآنها این رامیداندمردم ایرامي فهمدکه مجاهدین یك گروهي باعزم وباتصمیم هستند، ملت خودرادرشرایط دشواردرشرایط مقابله باوحشي ترین دشمن وسرسخت ترین دشمن دروقت مقابله آنهاتوانستند ملت خودرا رهبري کنند، براي ملت خود جهت بدهند وبراي ملت خود فکرشعوروذهنیت سالم ودرست رابدهند .ان شاء الله اگرفضاکمي آرام شود این مردم فردفرد اش توانائي این رادارد که ملت هارابه عقب خویش بکشاند .

سوال : استادمحترم ببخشیدگروههاي دیگربدون مجاهدین درافغانستان مطرح هستند . آیامجاهدین مي توانند ازآنهاحکومت بهتربسازند داراي این صلاحیت هستند .که حکومتي راکه آنهادرنظردارند واعلان میکنند بسازند، مجاهدین ازان حکومت بهترمیتوانند براي این ملت حکومت بسازند ؟

جواب : مامیخواهیم بدانیم که بدون مجاهدین شماکي هارامیگوئید؟

سوال : بلي بعضي ازین گروههاي که خودشان راسلطنت طلب وناسیونالست میخوانند به اصطلاح خودشان رابیطرف میدانند آنهاادعامیکنندکه اگرآنها(مجاهدین) ازصحنه برآیند براي ما میدان رابگذارند مامیتوانیم حکومت نمونه بسازیم وخواسته هاي مردم را برآورده سازیم وحکومتي راکه واقعاً خادم ملت باشد تاسیس کنیم .

جواب : کسیکه درآزادي کشوررولي رابازي کرده نتوانست کسیکه احساسش همین قدرا و رابرانگیخته نتوانست که حداقل سهمي درموردمقاومت دربرابر تجاوزگران بگیرند وملت را دروقت یورش وتجاوزدشمنان فراموش کنند وبه دنیاي بي تفاوتي پناه برد ودرهمانطورحالات خودرابیطرف قلمداد کند فکرمیکنم آنچنان مردم ، این ملت رانمي توانند رهبري کنند، یابه عبارت دیگراین ملت حالا دریك مستواي دیگري قراردارد ، این ملت را باید مردمي رهبري کندکه یابه سوي همین مردمي باشدکه ملك خودرا آزاد کرده ویانسبت به آنها تفوق وبرازندگي دیگري داشته باشد این مردم ازین کاروان عقب مانده اند فعلاً مصلحت آنها ومصلحت این کشوردراین است که براي رفاه وآرامش این ملك دعاکنند وبراي عمران وآبادي این کشورخدمات وتجربه هاي خودرا درخدمت حکومت مجاهدین قراربدهند، ومجاهدین ازآنعده افراد ایشان که اصول واساسات اسلامي، وجامعه اي جدیدي که درفروغ وتعالیم ارجدار اسلام ساخته میشود، تاجائیکه همین تعلیم واصول اجازه میدهدحکومت مجاهدین ازآنها استفاده میکند .

پوښتنه : تاسي تل دمجاهدینو ترمینځ دسیاسي ائتلاف یااتحاد په ایجادکي مهم نقش لوبولي لودیرزیات توقعات هم پدي برخه کي له تاسوڅخه کیدل .

وروستیو دووهفتوجریاناتوهم داوښودله ، خوږه تیرو اتواونهومیاشتوکي تاسي خپل دي نقش ته کمه توجه کړي وه، اودیوطرف په تقویه کي مصروف وي ، پدي هکله ستاسي نظرڅه دي ؟

ددفاع اوکورنیوچارو وزارتونو په کمیسیونونوباندي موافقه دبن بست څخه دوتلو په خاطر شویدي ده اوداهم زما طرحه وه

ځواب : راځه چي دي پوښتني ته ځواب ونه وایم، ددي لپاره هم چي زه دغه نقش ولوبوم ایجاب ددي کوي چي حتي داسي سوالوته ځواب ونه وایم ، که نه نو ماپخپله داکارنه ویرېښي ، زه خپله ددي مودي په اوږدوکي پدي تلاش کي وم چي دمجاهدینوترمینځ نژدیوالي او وروړګلوي راشي، امکان لري ځه موانع ایجاد شوي وي چي ماونشواي کولاي په همدغه نقش اوهمدغه رول کي مثمر اومثبت ګامونه واخستلاي شم زه پخپله خوښه ددي لاري نه ګوښه شوي نه وم بلکي ځه ظروف اوشرایط داسي راغلي وچي داکارونشم کولاي .

پوښتنه : اوس تاسي دمصالحي دهیئت مشري په غاړه لري اوپه دقیقه توګه بي له دي چي کلیګات مطرح شي مشخصاً تاسي دخپل ماموریت په باب زموږخلکوته څومره اطمینان ورکولاي شي ؟

ځواب : زه په پوره ډاډ داویلي شم داکوم کارچي موږپیل کړي دادخیرکاردي داسلام، جهاداووطن په مصلحت کاردي موږاوتاسي دمسلمانانو په صفت دوجائبو اومسولیتونو په اداءمکلف یو نتایج همیشه خداي جل جلاله ته سپارو خودنیك عمل نتایجو ته همیشه امیدواره یو دابواسلامي کاردي، داچي بیا نتایج څنګه راوځي دغیب علم خداي جل جلاله سره دي یوزده کونکي دیوکال په اوږدوکي ممکن یوه ورځ غیرحاضري هم شوي کړي، لیك اولوست ئي هم ښه په زیاراوزحمت ترسره کړي دي اوښه یادونه کي هم کړي وي خوکله چي دامتحان صحنې ته ورشي، فکرئي مشوش شي ګوري چي په یومضمون کي نتایج قانع کونکي نه وي، خوده خپل مسئولیت ترسره کړي دي ، هم ئي حاضري ورکړي اوهم ئي درس ویلي اوهم ئي په مکتب کي دزده کړي ټول اصول مراعات کړي وي خوبیاهم نتایج پټ دي نوزه دومره ویلي شم یوخودغه دمجاهدینو دصفوفو ترمیم اوټړدي کول دازموږاوستاسو دیني اواسلامي مکلفیت دي اوپرموږ واجب دي ، څومره چي داښه اداکولاي شوبایدادایي کړو . له بلې خواتجربي داښودلې ده چي کوم کارڅداي جل جلاله په خاطرشوي وي دهغې نتایج لوي خداي جل جلاله نه ضایع کوي په سوره کهف کي الله جلت عظمته فرمایي: چاچي ایمان راوړي عمل صالح ئي کړي ئوموږدنیکو کاروعمل نه ضایع کوو .

اوبل چي مایه دادوه مجلسوکي داوضع ولیدله په ټولو اطرافوکي دګډژوند دګډکار رغبت او له تیرو ترخو تجربو نه خستګي محسوسیده چي داخپله یوبشارت وروړ ته یوبشارت دي چي داترخي به بیانه تکراربږي. خداي جل جلاله به ځه سمه ورځ راولي .

سوال : پس ازانعقاد معاهده جلال ابادتعلل درتنفیذ نفاذ اوصورت گرفت این تعلل زمزمه هارادرمورد بروز یك جنگ خونین دیگري براندا خت وحتي شایعاتي درمورد وقوع یك کودتاشنیده شد، درآن اوضاع وحالات بدون مقدمه واعلان قبلي ماشاهدانعقادجلسات رهبران دربغمان بودیم که درهمان هفته به فاصله چند روزبعدماشاهدمراسم تحلیف هم بودیم درنزدیکي همان محل مذاکرات اولیه سه تن ازشخصیت هاي جهادي براي ماجالب است که ازربان شمامي شنویم که شمادرشکل گیري این تحولات چه رول وچه مقصودداشتید ؟

جواب : یکتعداد برادران زیادي واین رابه صورت قاطع گفته میتوانیم که اکثریت قاطع این ملت ازاستمرار همین اوضاع ناگواریکسال گذشته خسته بودند، ناراض بودند به این قانع نبودند، حتي آنهائیکه درآن بالفعل مبتلاهم بودندآنهاهم به این وضع قانع نبودند

ادامه دارد

دنوي حکومت پرضدجګړه مارو له خوابي رحمانه عکس العمل څرګندشو

شمس الحق "شمس"

داسي هیلي رازرغوني شوي وي چي داسلام آباد، مکي مکرمي او په تیره دجلال آباد دتاریخي غونډو اوپه هغو کي دټولو جهادي مشرانو، له خوادنوي حکومت په جوړیدو باندي لاسلیکونه به ددي ځوریدلي ملت نه داروان ماتم پورته اوځاي به بي هغه ځه دك کړي چي په خاطربي جهادشویدي که ځه هم زموږدولس دناامیده حالت په جلال آبادکي دجهادي مشرانودشلوورځودناستي په نتیجه کي چي دنوي کابیني په جوړیدو سره چي په راس کي به بي استادرباني وي اودصدراعظمي پوست پکي دحزب اسلامي مجاهدامیر محترم حکمتیار ته وسپارل شو ، دناامیدي له حالت څخه ځه ناځه سرراجګ کړ، ځکه پدغوغونډو کي په هغوجنجالي اوکشالو مسائیلو توافقات لاسلیك شوي چي داختلافاتو باعث ګرځیدلي و چي دهغوکړکیچنومسائلو څخه یوهم ددفاع وزارت مسئله وه،پریکړه وشوه چي ددفاع اوکورنیو چارو وزارتونه به دمقتدره اوباصلاحیته کمیسیونو له خوااداره کیږي ددفاع وزارت دکمیسیون مشري به داستادرباني په غاړه اودکورنیوچارو وزارت دکمیسیون مشري به دمحترم حکمتیار ددولت دصدراعظم په لاس کي وي اووروسته له دوومیاشتوڅخه به له ولایاتوڅخه دوه دوه تنه قوماندانان اوعلماء راغوښتل کیږي اوددغودوارو وزارتونو لپاره به مستقل وزیران انتخابوي .

په هرحال غونډه دیره په بریالي او امیدونوپوره کوونکي حالت سره پاي ته ورسیده ، دنوي کابیني غړي وټاکل شول داچي دټول مظلوم اوبیچاره ولس په وړاندي دمسائلو دحل وفصل او دنورجنګ اوبي نظمي ختمیدو په خاطرتعهدونه لاسلیك شوي و اودغوتعهدونو ته چاوفاداري ښودلي اوعملاً یي په کارپیل کړي اوچا هم دپخوایه شان داولس دوکه کړي اوناامیدي بي خوري کړي ، هرچاته معلوم دي داخپله دهمدغه جنګ ځپلي ولس په قضاوت پوري اړه لري خوترکومه چي د اسلام آباداو دجلال آباد په پریکړو کي ددولت دمحترم صدراعظم حکمتیارپه اوږدوروند باروراچول شوي و دپریکړي سره سم بي چارآسیاب ته په رسیدو سره دنوي کابیني دغونډي په جوړیداوموظفوکمیسیونودعملي کار دشروع کیدوپه هکله اقدامات شروع کړل، ددولت صدراعظم محترم حکمتیار دوزیرانو غونډه په کابل ښارکي داځتدنه موجودیت له کبله چهارآسیاب ته راوغوښته چي نهووزیرانو پدي غونډه کي ګډون وکړ اوزیاتره وزیران بهرنیوملکونوته په سفروکولو سره غونډي ته حاضرنه شول خو بیاهم دحکمتیارصاحب په مشري غونډه داړوند مسائیلو په حل وفصل کولو اودمقدماتي کارونو په اجراکیدو سره پاي ته ورسیده اومحترم صدراعظم دبلي غونډي دجوړیدو غوښتنه هم وکړه ترڅودداروان هلاکت باره وضعیت زرترزره خاتمه ومومي :

دوزیرانودغي غونډي دجوړیدو سره سم دبي بي سي خبریال ددولت دصدراعظم محترم حکمتیارصاحب څخه پدي اړوند توضیحات وغوښتل چي تاسي ولي داغونډه دکابل ښارڅخه بهرراوغوښته اوستاسي به دصدارتي چارو داجراکیدو لپاره کوم ځاي ټاکي ؟ په ځواب کي بي محترم صدراعظم دکابل په ښارکي دامنیت نشتوالي ته ګوته ونیوله اوویي ویل کله چي امنیت ټینګ شي نوبه مناسب وخت کي به کابل ښارته داخلیږم اودصدارت دځاي په هکله زه هیڅ ملاحظه نلرم دادنوي کابیني کاردي چي دصدارت له پاره هرځاي ټاکي .

ددولت صدراعظم دمخلصانه تعهدله مخي خپل کارونه په جدي توګه روان کړي ؤ ولي پدي لارکي دځینودوستانو دځندونو دپیداکولو له امله بیاهم دریواونیووروسته ددي موقع پلاس ورغله چي دجوزادمیاشتي په ۲۷ مه نیټه په پغمان کي خپله کابینه راټوله اوددولت درئیس په وړاندي دتحلیف مراسم اجراکړي دتحلف دمراسموڅخه وروسته محترم صدراعظم خپله کابینه رسماً پرانستله اوځیني مهمي فیصلي یي لکه دلاروامنیت باید تأمین شي پاتکونه له لارو لیري شي، هیڅوك حق نلري چي حق العبورواخلي ، دلارو په سرباندي پوستي باید حکومتي افرادوته تسلیم شي دحکومت ترهدایت پوري حتي حکومتي افرادهم حق العبوراخستلاي نشي ، اسلامي اردو دي زرترزره جوړه شي همدارنګه ددفاع وزارت کمیسیون ته وظیفه ورکړل شوه چي له ټولو خلکوڅخه درندي وسلي راټولي کړي اواسلامي اردوته یي وسپاري اودکورنیو چارو وزارت کمیسیون باید دکابل ښارامنیت زرترزره په خپل لاس کي ونیسي او .... له دغومراسمو اوغونډي وروسته دجوزاپه ۲۹ مه نیټه موظفو وزیرانورسماً په خپلو کارونوپیل وکړ. ددفاع وزارت اوکورنیو چارو وزارت دکمیسیونو غړویوپربل پسي دسلااومشوري لپاره دهیواد له صدراعظم محترم حکمتیارسره لیدني کتني وکړي اوددغوکمیسیونونو غړي بي خپلو درندو مسئولیتونوته متوجه کړل، فکرکیده چي دسرطان په ۲ مه نیټه به دنوي کابیني دوهمه غونډه ددارالامان په قصرکي دمحترم صدراعظم ترمشري لاندي پرانستل شي او دوزیرانوکتاردپلچرخي له لاري غوښتل چي دارالامان ته ځان ورسوي خومتاسفانه له توقع خلاف ، دوزیرانوکاروان دپلچرخي په سیمه کي دمسعود دتوپك والاواودبابه جان دکمونستوپریځو له خواودرول شو،امنیتي وسله ورځني تولة اودوي بندي کړاي شول اودبي عزته اوبي وقاره افرادوله خوادوزیرانو عزت، آبروتوهین کیږي اوددېرغیرانساني عکس العمل سره مخامخ کیږي وروسته له یوساعت بندڅخه دسعودي عربستان دسفیرپه غوښتنه له بندڅخه خلاص اوغونډه ځنډیږي همدارنګه دکابل ښارڅخه خبرونه رارسیدلي چي په همدي ورځ دمسعود دتوپك والاو اودکمونست بابه جان دمزدورانودغه ناوړه عمل داجراکیدوسره دکابل په ښارکي دجلال آباد پریکړو خلاف ددفاع اوکورنیو چارو دوزارتونو دکمیسیونونو داجرا اتوخلاف تجاوزګرانه اووحشیانه عملونه‌هم سرته رسیدلي دي، دښارپه دننه څلورلاروکي دبابه جان اومسعود ټانکونه ځاي پرځاي شوي، خلك اوموټرونه تلاشي کوي، پیسي اودخپلي خوښي مال بي ورځني اخلي اودمطلب کسان ورځني نیسي په یوبل خبرکي داهم ویل شوي چي دبالاحصار اومرنجان له غونډیو څخه چهلستون اودارالامان په راکټونو ویشتل شوي اودیرمالي تاوان بي اړولي دي، د شوراي نظارله خوادآسمایي اوتلویزیون له غرونوڅخه دحزب وحدت اسلامي په مرکزونوباندي انداختونه شوي چي دښارامنیتي وضعه بي بیاګډه وډه کړي ده .

ددي وضعي چي زموږپه هیوادوالو مسلطه شوي دوه عمده اواصلي علتونه دیادوني وړدي ، لومړي داچي ددولت په زیاتره مهموپوستونوکي دپخواني رژیم جنرالان اوهواداران تراوسه په قدرت کي پاتي شوي اصلاً هغوي نه غواړي چي ددي باتوراو مجاهدولس سرنوشت دي داسلامي شریعت دقوانینوپه رڼاکي جوړاوهیوادوال دي دآرامي اوسوکالي ژوند تیرکړي داهمدغه کمونست جنرالانو اوهواداران بي دي چي څوارلس کاله مسلسل دافغان ولس په ضدجنګیدلي اوس هم هماغه کمونست جنرالان لکه نبي عظیمي ، آصف دلاور اوجنرال بابه جان دي چي دجهادي مشرانوپریکړي دځینو تیرو دوستانوترڅادرلاندي په لغته وهي، همداکمونست جنرالان دي چي کله ددفاع اوکورنیوچارو وزارتونو کمیسیونونه دمحترم صدراعظم په لاربنوونه اوجدي عملي ګام پورته کول اودیوي سوچه اسلامي اردو دجوړیدو اودامنیت دراوستو واقعي پلانونه ویني نو ورباندي لیوني تبه راشي اوددغوپلانونو په شنډولو اویاڅه ناځه معطل کولو پسي پښي رابډ وهي، په ټانکونو سواره شي اودخلکودمال اوعزت په پایمالولوبي نظمي جوړولو اولوټلوشروع وکړي ترڅودمجاهدینو کړي تعهدونه تطبیق ونه مومي. همدانګ په څلورلاروکي دکمونست بابه جان ټانکونه دمسعود دافرادوپه مرسته ځاي پرځاي کیدل دپورتني ادعاڅر ګندشاهددي. (نوربیا)

دپلچرخي دپیښي په هکله دوزیرانو دشوراد ...

لري چي دکابیني اوسیاسي محیط په لارکي مشکلات رفع کړي ده وویل دکابیني روحیات اوچت دي ځکه چي تراوسه په کابل اونوروسیموکي پوره امنیت نشته، زموږوظیفه داده چي سوله اوامن رامینځته کړو اوددي ډول پیښومخنیوي وشي .

پدي اړوند دمهاجرینو دبیرته ستنیدوچارو وزیر محترم داکترفاروق اعظم وویل چي له پیښي وروسته موږبیرته کابل ته ستانه شو، هلته موږته وویل شول چي دابوه غلط فهمي وه .

دعدلیي وزارت معین مولوي عبدالرحیم هم دادځینو قوماندانانو سؤتفاهم بولي، وایي چي قوماندانان نه ووخبرچي داکاروان دوزیرانودي، هغه ددي پوښتني په ځواب کي چي ددي سؤتفاهم په وجه په کابل کي به سلګونو مړي وشول آخربه داسؤتفاهم ترکومه وي، وویل، وزیران ټول دولت ته مخلص دي، ان شاء الله داسؤتفاهمات به ژرله منځه ځي، همداراز دښووني اوروزني وزیرمولوي جلیل الله مولوي زاده وویل ، کله چي موږدحربي پوهنتون سیمي ته ورسیدوتوزموږ دکاروان مخه ونیول شوه اوراته وویل شوه چي وړاندي ستاسي امنیت نه دي تأمین مخکي نشي تلاي نوبهتره ده چي سرته وګرځي .

شهادت

برادرحکمتیارصدراعظم دولت اسلامي افغانستان تعدادي ازعلما، موسفیدان ونماینده گان ولسوالی چاردهی رابحضورپذرفتند

کابل - ٥ سرطان :
رادیوپیام آزادي گزارش میدهدکه تعداد ازعلما، موسفیدان ونمایندگان ولسوالي چهاردهي قبل ازظهرروز جمعه بابرادرحکمتیار صدراعظم دولت اسلامي افغانستان ملاقات نمودند .
طبق گزارش : درین ملاقات برادرعبدالقدیرآمرجبهه الفجر ووکیل عبدالرحمن ازقلعه مردان به نمایندگي ازمردم ولسوالي متذکره آغازکاررسمي برادرحکمتیار رابحیث صدراعظم دولت اسلامي افغانستان میمون ومبارك گفتند .
سپس محترم مولوي محمدشریف دررابطه به وضع جاري ولسوالي چهاردهي به صدراعظم معلومات مفصل داده پیشنهاد تاسیس یك باب شفاخانه رادرآنجا نمود وازطرف صدراعظم وعده تاسیس برایش داده شد وهکذا مولوي محمدشریف به نمایندگي اهالي متدین چهاردهي براي صدراعظم کشور وعده هرگونه همکاري داد. دراخیرجلسه بادعائیه مولوي مسجدي مبتني براعاده صلح واستحکام حکومت اسلامي خاتمه پذیرفت .

دلغمان په مرکزمهترلام ښارکي دننګرهار ، کونړاولغمان ولایت دښوونکومسلکي سیمنارپیل شو

لغمان - دسرطان ٥
دلغمان ولایت څخه زموږخبریال خبرراکوي چي د۱۳۷۲ کال دغبرګولي دمیاشتي په شپاړلسمه نیټه دلبراسکاپوهنتون په اخوادننګرهار، کونړاولغمان ولایت دښوونکیو لپاره دلغمان ولایت په مرکزد مهترلام ښار دروښان لیسي په انګړکي یومیاشتني روزنیز سیمنار دایرشو .
دتدریس لړي هره ورځ دسهارله ۷:۳۰ پیل اوپه ۱۲:۳۰ بجوختمیږي په دي سیمینارکي پنځه مجرب استادان دتدریس دنده په غاړه لري سیمینار ډیرګټوردي هیله ده چي زموږپه سیمینار کي شامل استادان به تري زیاته ګټه واخلي .

له پاکستان اوایران سره دښواریکو غوښتونکي یو

کابل - دسرطان ٤ :
دافغانستان دبهرنیوچاروزیرمحترم هدایت امین ارسلا تیره ورځ په یوه مرکه کي وویل دانجنیرګلبدین حکمتیار په مشري حکومت اوس په کارپیل کړي اوله دي سره به دایمي اوربند عملي شي، له دي وروسته به دتیروکالونودجنګ تاوانونوجبران غواړو هغه وویل چي دکابینې دتولو غړو داوظیفه ده چي دامنیت په راوستو اودهیوادبیاوداتولو په کارکي زیارو باسي ، هغه وویل موږدخپلو ګاوندیو هیوادونو سره دښواریکو غوښتونکي یو ، هغه کوو چي ددوه اړخیزه اقتصادي همکاري اوګټي په نظرکي نیولو سره یوبل ته لاسونه ورکړو. هغه زیاته کړه ، په ځانګړي توګه موږله ایران اوپاکستان سره دښواریکوه جوړیدو کلك پلویان یوځکه چي هغوي زموږد ١٤ کلن جهاد ملاتړکړیدي، همدارازدمنځني اسیادهیوادونوسره چي زموږدجهادله برکته خپلواك شوي دښوروابطو غوښتونکي یو هغه وویل موږله ټولو هیوادونو څخه غواړو چي زموږپه کورنیوچارو کي لاسوهنه ونه کړي هغه ټولو اسلامي اوغربي هیوادواو نړیوال،اسلامي اواسیایي بانکونوته اپیل وکړچي دافغانستان په بیاوداتولوکي پوره برخه واخلي .

دهلي جدید: یك افسرپولیس هنددهن یکتن ازمخالفین حکومت راکه برضدنارا‌سیماراوصدراعظم آنکشور شعارمیدهدبسته کرده است
عکس از«نیوز»

دعامي روغتیاوزیر د.I.C.R.C اله استازي سره وکتل

کابل :
دعامي روغتیاوزیر محترم سیدمحمدامین فاطمي دشنبي په ورځ له غرمي مخکي د اي ، سي ، ار، سي له استازي سره دعامي روغتیاپه وزارت کي وکتل، پدي کتنه کي دعامي روغتیاوزارت په بیلابیلو برخوکي ددغي موسسي دهمکاري په باب خبري وشوي د اي، سي، آر، سي استازي دزیاتي همکاري ژمنه وکړه ، دغه رازدعامي روغتیا وزیرپه اوسنیو شرایطو کي ددغي موسسي دفعالیت قدرداني وکړه .
دننګرهارپه ولایت کي ددغي موسسي فعالیت چي ددغه ولایت دروغتونونودبیا جوړولو اوترمیم چاري پرمخ بیائي په نیکي یادکړاودعامي روغتیاوزارت ته ئي ددغي موسسي زیاته همکاري جلبه کړه .

نیروهای امنیتي دولت افغانستان ۸ نفر رابه جرم مسموم ساختن مواد غذایي بازداشت کرد

کابل - ٤ سرطان :
رادیوبي بي سي به نقل ازآژانس خبررسانی فرانس پریس گزارش میدهدکه نیروهاي امنیتي دولت کابل ۸ نفررا به جرم مسموم ساختن موادغذائي بازداشت کرده است .
طبق گزارش ۸ نفرزماني دستگیرشدندکه به زرق زهردرمیوه جات اقدام نموده بودند .
داکترفاطمي وزیرصحت عامه دولت اسلامي افغانستان نیزطي مصاحبه یي ازمسموم شدن موادخوراکه وهلاکت تعدادي ازشهروندان کابل سخن راند .
قراریك خبردیگر رادیوي دولتي کابل شب شنبه درسرویس خبري اش ازشهادت یك نفرازاثرخوردن بادرنگ مسموم شده خبري رابه نشررساند .
##

مژده مژده مژده

شفاخانه نسایي ولادي النساء درین اواخرتحت سرپرستي دکتورس هاي مجرب افغاني به فعالیت آغاز نموده است . این شفاخانه باداشتن وسایل عصري وبستر۲٤ ساعته درخدمت شمااست .
این شفاخانه تمام امراض زنانه باشرایط بهترو فیس مناسب معالجه ،تداوي وبسترمي نماید .
آدرس : حسین آباد- صدر رود- مقابل فیض الله خان چوکي - پشاورصدر

سوانح مختصربرادرشهیدعبدالخالق قوماندان ضربتي فرقهٔ ضرب مؤمن

برادرشهید قوماندان عبدالخالق فرزند عبدالرزاق مسکونهٔ زیبداغ ولایت میدان درسال ۱۳٤۳ هجري شمسي دریك خانوادهٔ متدین وشهیدپرور پابه عرصهٔ وجودگذاشت.
شهید عبدالخالق تحصیلات ابتدائي اش راالي صنف هشتم درمکتب میدان به سررسانید وي هنوزجوان نابالغ بودکه علیه کمونستان آغازبه جهادکرد.
عبدالخالق شهیددرطي جهاد چهارده ساله درعملیات هاي متعددي شرکت ورزید، قوماندان عبدالخالق درفن عملیات چریکي مهارت کامل داشت .
شهیدموصوف الي روزشهادتش ده بار زخمي گردیده است بالاخره مردمجاهد، الګوونمونه اخلاق ، وفاتح سنگرهاي مقاوم دشمن قوماندان ضربتي فرقهٔ ضرب مومن برادرعبدالخالق به تاریخ ۱۲ حوت سال ۱۳۷۱ دریك حادثهٔ سؤقصد بالاي موترش که ازوردگ به صوب میدان درحرکت بودبایکتن مجاهدش بنام معراج الدین به شهادت رسید. وقلب هزاران مجاهدآن خطه راجریحه دارساخت . روحش شادباد

دبریتانیا صدراعظم به راتلونکي کال پاکستان ته سفرکوي.

اسلام آباد ، دسرطان ٤
دبریتانیا صدراعظم جان میجر په راتلونکي کال پاکستان ته سفرکوي دغه ټکي دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت یوویاند خبریالانو ته څرګند کړیدي . دخبر مطابق به سږ، کال دپاکستان صدراعظم محمدنوازشریف اودبریتانیا صدراعظم جانمیجر داکتوبر په میاشت کي دمشترك المنافع هیوادودغونډي په موقع په قبرس کي سره ګوري.
په خبرکي پاکستان ته دجان میجر دسفر ټاکلي نیټه نه ده ذکرشوي .

سرازیرشدن سیل درچین حداقل ۳۱۵ کشته وزخمي بجاگذاشت.

پیکنگ : ٤ سرطان .
سرازیرشدن سیل طي چند روز گذشته درجنوب غرب چین حداقل ۱۸ کشته وهزاران بي خانمان برجاي گذاشت.
. طبق خبرگزاري فرانسه ۱۹۷ نفر درجریان سیل زخمي شده وبیش ازچهل هزارنفر در دواستان ازمجموع پنج ایالت اسیب دیده بي خانمان شده اند.

یك صاحب منصب ارتش روسیه درگرجستان به قتل رسید.

تفلیس : ۳ سرطان.
روز پنجشنبه درتفلیس پایتخت گرجستان یك افسر ارتش روسیه درحمله مردان مسلح کشته شد.
طبق گزارش ، حمله زماني روي داد که شش مر دمسلح یك امبولانس نظامي رامتوقف ساختند وازافسر روسي خواستند سلاحهاي خودراتحویل دهد. اماوي ازین کار اباورزیدند.
مناسبات تفلیس بامسکوازهنگامیکه گرجستان روسیه رابه مسلح کردن شورشیان "اقفاز" متهم کرد تیره شده است. روسیه هرگونه دخالت دربحران اقفاز"راتکذیب میکند.

یك هلیکوپتر بایك جنگنده انگلستان تصادم نمود

لندن ۳ سرطان
یك هلیکوپتر بایك جنگنده انگلستان برفرازمنطقه شمال غربي آنکشور بایك هلیکوپتر غیر نظامي تصادم نموده هلیکوپترموصوف راسقوط داد .
طبق گزارش رسانه هاي خبري سرنشینان هلیکوپتر جانها شانراازدست داده اند. وزارت دفاع انگلستان تاکنون ازتائید رسمي برخوردهواپیماي جنگي باهلیکوپتر غیرنظامي ونوع این هواپیما خو ددار ي کرده است.
امابراساس یك گزارش غیر رسمي هواپیما ازنوع " تورنادو" بوده است. پولیس محلي اعلان کرده است لاشه هلیکوپتر و اجساد کشته شدگان رادرمحل حادثه پیدا کرده است.

دکتمندو هوایي ډګر دنړي ترټولو خطرناك ډګر دي

کتمندو دسرطان٤
اکثرماهرین عقیده لري چي دنیپال دپایتخت هوایي ډګر ددنیا ترټولو خطرناك ډګردي ، دوي وایي چي په دغه هوایي ډګر کي دکښته کیدو اوالوتلو کوم خاص انتظام نشته اوله بلي خوا دغه ډګر دلوړو غرو په منځکي پروت دي چي دمسافرو دسرخطر ډیکي زیات دي ، په دغه ډګر کي تیرکال پرله پسي دوه هوایي پیښي وشوي چي په سلګونه تنه پکي ووژل شول تیرکال دپاکستان یوه الوتکه دحادثي ښکارشوه اوله هغې وړاندې دتالیند دهوایي چلند الوتکه راوغورځیده .

سازمان ملل جهت دستگیري جنرال فرح " عدید" جائزه تعین کرد

موگادیشو ٤ سرطان .
سازمان ملل متحد باپخش پوسترهاي ازجنرال محمدفرح عدید درسومالي جایزه تعین شده براي دستگیري وي رااعلان کرد.
به گزارش رویتر طرفداران عدید نیز باپاره کردن پوستر ها براي دستگیري "جاناتان هاو" جنرال امریکایي که نماینده ویژه سازمان ملل درامور سومالي است جائزه پیشنهادکردند.

اشتعال آتش درفرانسه یکصدو چهل شش کشته وزخمي بجاگذاشت

پاریس ٤ سرطان.
دراثر آتش سوزي گسترده که شب گذشته دریك شفاخانه رواني نزدیك شهر "رن" درغرب فرانسه روي داد ، حداقل یکصدنفرکشته . ٤٦ نفر زخمي ودونفر ناپدید شده است . وضع (۱۱) تن از مریضان وخیم گزارش شده است.
به اساس گزارش رویتر : آتش سوزي حدود یك بامداد به وقت محلي هنگامی روي دادکه بیماران درخواب بودند.
آتش به تیزي تمام شفاخانه رافراگرفت . مامورین آتش نشاني هم اکنون سرگرم جستجو براي یافتن بیماران ناپدید شده هستند.

قابل توجه علاقمندان کتاب

رساله «ویژگي هاي تشکل اسلامي » مجدداً باقطع وصحافت زیباپچاپ رسیده است ، علاقمندان مي توانند آنراازنمایندگیهاي توزیع روزنامه شهادت دربدل قیمت مناسب بدست بیاورند.

فرمان الهي

فرمان الهي
خداوند (ج) میفرماید:
هرجاکه باشید ، دریابد شمارامرگ اگر چه که دربرج هاي محکم باشید.
(النسا ۷۸)

نبوي ارشاد

حضرت براء(رض) روایت مي کند که پیامبر(ص) فرمودند : دومسلمان باهم روبرونمي شوند که مصافحه نمایند ،مگر قبل ازاینکه ازهم جداشوند گناه شان آمرزیده مي شود .
(رواه ابوداود)

دسرمقالي پاتي برخه

.بله ګټه نه لري ، اودشهیدانو دوارثانوانتباه ، اخباراواخطارهم دادي ، چي دداسي پيښو رامنځته کوونکي به دمجاهدوپرګنو له خوادروس اوامریکادمتفق علیه ګوډاګیانو په لیکوکي ونیول شي ، چي نه یواځي به دهیواد له سیاسي پانګي ورك شي ، بلکي داسلامي حکومت دغه مخالفین به دسنګینو جزاګانو مستحق وګرځي . دومره ستراوعظیم جرم تش په سؤتفاهم کي خلاصه کیدلي نشي ، اوزموږمشوره داده ،چي نورد افغانستان مجاهد ملت میدان ته راوباسي ،اودبیا لپاره بي موږچلونه ته وخیژوي . ددغي خونړي لوبي لوبغاړي اسلامي حکومت پدي نشي چیلینج کولي ، چي ددفاع دکمیسیون غړي برغمل اوبرمته کړي ، اوبادااسلامي حکومت وزیران بندیان کړي. افغانان دیوي تیمي لسیزي په جهادکي دډیروسختو ځاني اومالي زیانونو متحمل شویدي. نوداسلامي حکومت مخالفین اومعلوم الحاله بدماشان پخپله احمقان دي ، اوکه ددومره لویي قرباني زغموونکي مجاهد ملت ورته احمق ښکاري .خودوي باید پدي پوه شي ،چي داهرڅه تاسو پاست ، اودقرآن حکیم دلارښوونو پر بنسټ به د"فزادهم الله مرضا" مستحق وګرځي . اوکه دوزیرانو له توقیف اوددفاع دکمیسیون دغړو دبرمته کیدلو ته.تیرشو، نوباید ووایو ، چي په کابل کي دشوراي نظار داجنګونه دڅه په خاطر دي ؟
اوداډول پیښي ولي رامنځ ته کیږي . که موږهر څومره زیارګالو ، چي پدي حساسو شیبوکي باید انتزاعي مسایل ونه څیړل شي ، نواخر دمسوولیت اودمجاهدملت دبرخلیك ټاکني خبره ده ، اودایوه داسي پیښه ده ، چي هیڅ مصلحت اوعواطف پکي په نظرکي نشي نیول کیدي ، اونه پري کومه معامله کیدلي شي . نو دخداي (ج) لپاره ! پدي ډیرډیر دردیدلي ملت ورحمیږي ، دکابل ښارنورمه ورانوي ، داسلامي حکومت اواسلامي نظام دلاري خنډمه جوړیږي ، ددي هیواد بي وزله اوزیارایستونکي ولس مه وژني ، پریدي ، چي دجابرو سرو‌یوځوتو دلاسه زخمي شوي بدن تکورکړي ، پریدي چي دیتیمانو په سرلاس کش کړي، اودلاسه یي کړ ي. پریدي چي خپلو معیوبینو ته رزق او نفقه وګټي ، پریدي ،چي دخپلي قرباني له کار نامونه حماسي جوړي کړي ، اوبیا یي اسلام امت ته په میراث پریدي . اوپریدي چي دخپلي قرباني له کار نامونه حماسي جوړي کړي، اوبیا یي اسلامي امت ته په میراث پریدي .اوپریدي ،چي دمجاهدملت دفداکاریو تاریخ جوړاودجهاددمدرسي په بین الاسلامي نصاب کي شامل شي ، چي داسلامي امت دمجاهدو بچوړو احساسات پري راوپا ریږي ، جذبات بي لمبه شي ، اودجهاد په رښتیاني اصل ډګر دي نړي له مخي دظلم ،کفر ښکیلاك او څپیښاك توري لړي ورکي شي . نواوس به له چاسره داجرائت وي ، چي تیغ په نیغه زموږ دجهاد ټاکلي بین المللي اصول نفي کړ ي. خو دادتنظیمونو دمشرانو او بیاپه تیره دسولي دکمیسیون دغړو ایماني مسوولیت دي ، چي میدان ته شي ،اودګردملت ترمخ په پرده‌پراوپه وړ۷ دوړ غر.وکړ ي. نوره خبره د بورازمصلحتونو له پولو اوښتي ، اودسیاسي تغافل او تساهل له سرحده تیره شویده . نورنومجاهدملت دمسؤولینو دوروستیو پریکړو منتظردي.

مشورتي اقتصادي ...

اوانکشافي بودیجي دطرحي په باب خبري وشوي اودتصدیودفعالیتونو ددوام اونورواقتصادي اوتولنیزومسئلو په ارتباط خبري اتري وشوي پدي غونډه کي دباب ورمسئلو په اړه دافغانستان داسلامي دولت جمهوررئیس محترم استادبرهان الدین رباني لخوا مشورتي ، اقتصادي عالي شوراته مشخصي لارښووني وشوي .

بازداشت وزرای

میباشند تأمین امنیت شهرکابل به آنهاسپرده شده است .
این دوجنرال نامبرده بعدازسقوط نجیب دربرج ثورسال گذشته دربهلوي شوراي نظار قرارگرفتند.

شهادت

بیانګرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
تحت نظرهیئت تحریر
پست بکس : ۱۰۳٦ یونیورستي تاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکتوري
حساب بانکي: ۸٥۲٦٤
دافغانستان بانك
تلیفون : ۲۹۲٦